پوهاند بشیر احمد زکریا ۲۰۱۹/۰٤/۱۷

# د افغانستان دائمی بیطرفی






ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

لمړی برخه




# ليکوال : پوهاند بشير احمد زکريا

خېړنيزه رساله

## ژباړه : رحمت آريا

۱۹۹۷ ش – ۲۰۱۹ م

# د سویټزرلنډ نقشه




Note:

The cover page image and the map of Afghanistan and ethnical map of Switzerland are borrowed from Google.com. Thanks Google.

یادونه :

د کتاب د پوښ انځور، د افغانستان نقشه او د سویټزرلنډ د هېواد اتنیکي نقشه له ګوګل ډاټ کام څخه پور شوې ده. مننه ګوګل.

# د افغانستان پرګنې باید

# د هېـواد د دائـمي بې طرفۍ

# په لاره کې کار وکړي

# ځکه دا د راتلونکي سولې او ددوی د کورنیو

# د خوندیتابـۀ لپاره یوازینۍ لاره ده

## لیکوال :

پوهاند بشیر احمد زکریا

دائـمی پوهاند او خاص لکچرر

د کولمبیا پوهنتون، کالج آف فیزیشنز اینډ سرجنز

همکار لیکوالان :

ډاکتر حبیب احمد زکریا – د انتروپولوژۍ ډاکتر – د سوربون پوهنتون – فرانسه

ډاکتر نجیب احمد زکریا - Psychotherapist رواني تحلیل « د سوربون پوهنتون – فرانسه »

پ. عثمان زکریا – د ټولنیزو علومو لیسانسه «تأریخ – د کابل پوهنتون »

ډاکتر امیر. ا. زکریا د زړۀ جراح، «د جان هاپکینز پوهنتون»

ډاکتر فیض احمد زکریا – نړۍ وال حقوق «د سوربون پوهنتون – فرانسه»

بسم الله الرحمن الرحیم

# سریزه

تأریخ د ټولنیزو علومو یوازینی علم دی چې له موږ، **د افغانستان خلکو،** سره مرسته کوي چې له تجاربو ئـي داسي یوه لاره ومومو چې ځانونه د رواني ویني تویدني له دوام او د خپلو کورنیو د غړو د له لاسه ورکولو له بهیر څخه چې پای نـهٔ لري وژغورو. د تأریخ د فلسفي او د نولسمي پېړۍ د تأریخ په څېړني کي زما سابقي او په دې اړوند زما لیکنو ته په کتو مي دا اړینه وبلله چې د نولسمي پېړۍ د یوې دېرې له اهمیته ډکي پیښي په باب د یوهٔ شي په لټه کي سم.

په ۱۷۷۶ ــ ۱۷۸۷ ز کلونو کي د امریکا د متحده ایالاتو په تأسیس، د امریکا د استقلال د اعلامیي په خپرېدلو او د امریکا د اساسي قانون له تدوین سره جوخت انسانان د خپلو خدای ورکړیو فطري حقوقو د ترلاسه کولو، د ټولو انسانانو لپاره د ژوندانـهٔ د نـهٔ بېلـېدونکو حقوقو او د خپلواکۍ او سمسورتیا د موندلو په لټون کي سول. د امریکا له انقلابه وروسته د فرانسي انقلاب رامنځته سو، ددې فرانسوي انقلاب پایله په فرانسه کې په نـهٔ تمېدونکو وینو تویولو او په ۱۷۸۹ ــ ۱۷۹۹ز کال کي د فرانسي د پرګنو د ژوندانـهٔ په ګډوډولو واوښتله. دا ټولي پېښې د منځنیو پیریو د تیارهٔ پړاو د دروازو له تړل کیدلو او په اروپا کي د «عصرالعقل» او «عصر الـتـنویر» د دروازو له پرانیستل کېدلو سره سم رامنځته سوي دي.

د ۱۸۰۰ز کلونو له پیل سره سم د فرانسي د انقلاب ټولي ښې موخې د ناپیلیون د خپلسریو او د فرانسوي «نشنلیزم» له کبله تحریف سوې. فرانسوي امپراتورۍ د فرانسي د لومړي انقلاب ځای ونیوهٔ او ناپیلیون د اعلی سترواک او مطلق العنانه واکمن په توګه راڅرګند سو. ناپیلیون د خپل نـهٔ مړېدونکي حرص په کړس کي د اروپا ټوله لویه وچه د جګړې په لوی ډګر بدله کړله. کله چې ناپیلیون پوه سو چې روسیه د خپل آرمان د ترسره کولو یعني د اروپایي فدراسیون د جوړولو په لټه

کې ده او روسیه به تر خپلې اداري لاندې ستروا کۍ او خپلواک سلطنتونه سره راټول کړي نو ناپیلیون په لنډ وخت کې مخ روسيي ته واړاوۀ او د خپل ۵۰۰۰۰۰ کسيز لښکر په مټ ئې روسیه ونیوله. روسيي په خپل ځمک سوځوونکي سیاست او هم د روسيي خورا سخت ژمي د ناپیلیون د لښکر دوه پر دریمه برخه تس نس کړله؛ په دې حال کې د آستریا د ستروا کۍ د باندنیو چارو وزیر شهزادګي میترنیخ اوضاع له نـښردو ځارله او کله چې موقع په لاس ورغله نو له سترې برتانیې، پروس او روسيي سره په ګډ ائـتلاف کې ئـې ناپیلیون مات کړ او د ایلبا ټاپو ته ئـې تبعید کړ؛ ناپیلیون د خپلې دویمې هڅې په لړ کې ناکام سو او دا ځل ولینګټن خپلې انګلیسي مستعمرې ته د پاسیفیک په سمندر کې د هیلینا ټاپو ته تبعید کړ.

د آستریا د ستروا کۍ Austrian Empire د باندنیو چارو وزیر میترنیخ په ۱۸۱۳ز کال کې په ویانا کې د سولې کنفرانس په دې موخې پیل کړ چې اروپا یو ځل بیا د تاندې ساه په اخیستلو پیاوړې سي او هم د لومړي ناپیلیون په لاس د اروپا له دومره ورانۍ وروسته وکولای سي په اروپا کې ځواک – انډول له سره په تعادل کې راولي.

ما دوه کاله د ویین Vienne Congress د کانګرس په باب ددې هېواد آرشیفونه، خپاره سوي کتابونه، لیکونه او د نوموړي کانګرس په هکله مقالې وڅېړلې، ددغو څېړنو په لړ کې ما ته په ۱۸۱۴ز کال کې د ویانا د جوړ سوي کانګرس په باب چې د ۱۸۱۵ز کال د جون تر میاشتې پورې ئـې دوام وکړ یو **ستر راز** په لاس راغی. دا کتاب به د نولسمې پېړۍ د یوې ډېرې مهمې پېښې له مخې پرده لیرې کړي.

موږ به د دسیسو، شخصیتي تصادماتو، جوړ جاړیو او د **«سویس د دائـمي بې طرفۍ»** پر اهمیت باندې له هغـۀ مهاله تر ننه د برغولي اپیسودلو له غورچاڼ وروسته چې د **«نړۍ والې سولې»** له ارزښتناک مفهوم سره ډېر نـښردې او ټینګ تړاو لري ددغو اسرارو له مخې پرده لیرې کړو. دغه مفهوم د څه باندې دوه سوه کالو لپاره د دیپلوماسۍ او سیاست بازیو په پراخه کړۍ کې د پټ پټانو په لومه کې پټ او د سیاست په تیارو خونو کې چوپه خولـۀ په تورتم کې ساتل سوی دی. نړۍ واله سوله په خپل هراړخیز او آرماني اړخ کې هغه نښرغانده یا پدیده وه چې په لرغونو مهالونو کې د لرغوني مهال پیغمبر «یعنی سلیمان علیه السلام» له وخته نیولې بیا تر یوناني ښاري دولتونو پورې، بیا تر ستروا کیو، پادشاهیو او د ګډو دولتونو تر فدارسیونونو پورې ټول له یوې مخې د نړۍ والې سولې په لټه کې ول.

ددغۀ کتاب په راتلونکو څپرکیو کې چې په ساده ژبه لیکل سوی لوستونکی به پوه سي چې ددغۀ «ستر راز» اهمیت په څه کې پروت دی او د سیاست د نړۍ څواکمنو شخصیتونو او دولتونو ولې د هغۀ له په رسمیت پېژندلو څخه نټه کړې ده؟ ولې د «نړۍ والې سولې» مفهوم له لوګي او باروتو ډکې فضا کې د شرګدې ځانغوښتنې او د بې حد او حصره بشري څواک غوښتنې په تورتم کې له شک او ناباوریو سره مخامخ سوی دی.

# ډالـــــــۍ

په ساده ژبې لیکل سوې دا «رساله» د افغانستان ټولو پرګنو ته چې د بېلابېلو قومونو او مذهبونو له ګلبڼ څخه جوړې سوي دي ډالۍ کوم، دا هماغه هېـواد دی چې ستر ښتن ورته د آسیا د خطرناکو څلور لارو په منځ کې ځای ورکړی دی. ښایي د چا ذهن کې دا پوښتنه پیدا سي چې «ولې»؟ او یا هم ښایي ووایي چې الله ج د خپل ذاتیه لایتناهي حکمت په لړ کې ورته کوم «**ښـۀ دلیل**» درلودلی دی؟ تاسو به ددې رسالې په لړ کې د همدغـۀ «ښـۀ دلیل» لپاره داسي یوه بیخچنه شرحه وموئ چې د تأریخي پېښـو، غولوونکو ډیپلوماتیکو وړاند ویـینو، جغرافیوي، ټولنیزو او تأریخي اړخونو پر بنسټ ولاړه ده.

هغه مکتشفین چې د آسیا په څلور لاره یعنی افغانستان کې د کوم شي په لټون کې ول نـۀ د افغانستان په پار بلکه د هند او چین د پانګو او جغرافیوي موقعیت چې د روس تر پَستي ګېـډې لاندې پروت وو او هم د لنډو نښلوونکو مواصلاتي لارو د لرلو په لټون کې څکه پلټلی چې د تیلو د لېږد او د فارس خلیج او د هند د سمندر تودو اوبو ته د رسېـدلو آسانه لارې ئـې لرلې. خو افغانستان له خپلو جنګیالیو قومونو سره یو ځای د ستر الکسندر له مهاله نیولې بیا تر چنګیز خان پورې، د مغولو له ستر واکی نیولې بیا د برتانیې تر پراختیا غوښتونکو تیریو پورې، د پخواني شوروي اتحاد له لوړتیا غوښتنې نیولې او دا دی نن د امریکا تر متحده ایالاتو پورې هیڅکله د خپل پینځه زره کلن تأریخ په اوږدو کې ټینګه او ثابته سوله او یا ډاډمن امنیت نـۀ دی لیدلی. **د همدومره پیریو په اوږدو کې د**

**افغانستان پرګنو پرته له مرګ، ځګړو، ویني بهېدنو، ورانیو او د هېواد د بنسټونو له نړېدلو پرته بل څه نـهٔ دي لیدلي.**

له دي کبله دغه رساله خپلو بې وزلو پرګنو ته چي د تأریخ په تږولو اعصارو کي په بې رحمی کړول سوي دي په حق سره ډالی کوم. د افغانستان پرګنو د خپل تأریخ په ټولو اوږدو او کړلیچنو پړاوونو کي خپلې بقا ته آزادۍ سره د بې ساري مینې له لارې دوام ورکړی دی؛ هیڅ ځوک دي په دي کي شک ونـهٔ لري چي دا پرګنې به په کوم لیري وخت کي نـهٔ بلکه په ډېر نـېږدې راتلونکي کي د یوهٔ یو موټي متحد ملت په څیر په پښو ودرېږي، دوی به دا ځل نـهٔ لکه پخوا چي د خپلو تیریګرو دښمنانو پر وړاندي یو موټي درېدل بلکه د یوهٔ متحد، متفق **«د الله «ج» د ساتني تر سیوري لاندي به د نـهٔ بېلېدونکي ملت»** په توګه په پښو ودرېږي او د خپلو هغو حقه انساني حقوقو غوښتونکي به سي چي نور ئـې لري یعني د سولې او امن په چاپېریال کي خپلو ځانونو او کورنیو ته ډاډمن ژوند، ددوی ملي وقار ته د درناوي، ددوی اعتقاداتو او تر ټولو مهمه ددوی خدای ورکړې آزادی ته د درناوي د حق غوښتونکي سي. څرګنده ده چي افغانان د نړی د نورو ملتونو په شان خپل ځان او خپلو کورنیو ته د سمسورتیا غوښتونکي دي. افغانان د منځنۍ آسیا د نورو ملتونو په پرتله تأریخ ته ثابته کړې چي د خپلو نورو ګاونډیو او د نړی د آزادي پالو ولسونو په تناسب ئـې د خپلو وینو او د تندیو د خولو په برم ئـې داسي او له درناوي ډک لوړ ځای او دریځ خپل کړی چي دا هېـواد ئـې د «نړی د ستروا‌کیو د هډ ایرې په نامـهٔ» یاد کړی دی. **له همدې کبله ده چي دا ملت باید د دائـمي بې طرفی، سولې او امن د نـهٔ نفی کېدونکي حق برخمن وګرځي، کټ مټ لکه سویټزرلند، او ښایي موږ هم وکولای سو دا هېـواد په راتلونکي کي د آسیا سویټزرلند وبولو.** موږ د آسیا پر ټولو ملتونو او د ځمکي پر مخ پر ټولو سوله پالو او په آزادۍ مینو کسانو غږ کوو چي د بشریت لپاره دي د **نړی والي سولې** لاره غوره کړي؛ دا هغه لاره ده چي انسان ته وعده سوې لاره ده، خو یو شمیر لږکیو ورڅخه انکار کړی دی؛ دا هغه لږکي دي د حقیقت او د شعور اړوندي ځانګړتیاوې او د مینې او فطرت جوړونکي غوښتني نـهٔ مني؛ دا هغه مینه ده چي پر بنسټ ئـې «حنیف» انسان خلق سوی چي د ځمکي پر مخ د الله «ج» نایب واوسي.

د لمړی برخی پای


## تذکر:

هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند که نبشته ها و مطالب دیگری از این نویسنده را مطالعه کنند، می توانند با "کلیکی" بر عکس نویسنده در صفحهٔ مقالات، به "آرشیف" شان رهنمائی شوند.